واحد فقيري ۲۰۱۲/۰۳/۰۷

# ايا د امريکا وتل د افغانستان په ګټه دي؟

په بګرام کي د قران مجيد د سوځولو پر خلاف د عامه افغانانو اعتراضونه د امريکايي عسکرو د وتلو سوال نور هم مهم او اړين کړ. دي مظاهرو وښودله چي د افغان ولس او بهرنيو قواوو تر مينځ بي اعتمادي او بيزاري لا زياته سوي ده. په مرګانيو اعتراضونو کي د امريکا پر ضد شعارونه ورکړل سول. پر ايتلافي موسساتو او ودانيو باندي حملي وسوې؛ په داخله وزارت او نورو حکومتي ځايونو کي افغان عسکرو بهرني افسران او روزونکي ووژل؛ او لنډه داچي د يو بل پرخلاف احساسات لا خصمانه سول.

په امريکا کي، جمهوري غوښتونکي نوماند نيوت ګينګريچ د امريکايي عسکرو ژر تر ژره خروج تشويق کړ. نور کانديدان او مبصرين هم له افغان جنجال څخه ژر وتل غواړي. بلخوا، اغلب ګومان دا دی چي امريکا به له افغانستان څخه خپل پوځونه په ۲۰۱۴ او يا حتی ۲۰۱۳ کي وباسي. له هغه وروسته به افغانان خپل امنيت، ملي حاکميت، او سياسي ثبات پخپله سمبالوي .

واقعيت دا دی چي په تاريخ کي هيڅ بهرنی طاقت په بل ملک کي دايمي نه دی پاته سوی. د افغانستان تاريخ له داسي حوادثو څخه ډک دی. دلته ډېري امپراتورۍ راغلي دي، خو ډېر ژر په تکليف او عذاب اخته سوي دي. د هيواد جغرافيه، غرونه، دښتي، او د خلګو ازاده او سرسخت طبيعت تل بهرني اشغالګر قدرتونه له وجودي خطر او دوامداره او نه ختميدونکي جنګونو سره مخامخ کړي دي، او د هغوی لپاره يي ددې ځای ساتل ګران کړي دي. په ۱۹۸۹ کي د شوروي خروج لنډ او ژوندی تاريخ دی. شوروي بالاخره د افغان مصيبت څخه په منډه ځان خلاص کړ.

برعلاوه، اکثريت امريکايان له افغانستان څخه د خپلو عسکرو راوتل غواړي، او عمومي فهم او درک دا دی چي په افغانستان کي القاعده ختمه سوېده، او د ۱۰۰ يا ۵۰ پاته غړو د وژلو او راايسارولو لپاره يو لک امريکايي عسکر ضروري او معقول ندی.

دمګړی، په سپينه ماڼۍ کي د جمهوررئيس مرستيال جو بايډن نظر غالب او غښتلی ښکاري. هغه په «کاونټر-اينسرجنسي» باندي باور نلري، بلکي د «کاونټر- ټرورېزم» طرفدار او پروموشن کوي- مانا حداقل مداخله، پيکه او خام پل، طالبان زموږ «دښمنان ندي»، اود جنګ افغاني کول غواړي. په عين حال کي، په امريکايي مطبوعاتو کي د افغانستان او ويتنام کيسه ډېر ه سره مقايسه کيږي، او يا د شوروي د وتلو ليونی تصوير بيابيا يادېږي.

د بهرنيو قواوو د تګ په باب بايد ووېل سي چي د خارجي نظامي قوتونو وتل هم د افغانانو او هم د امريکايانو په خير دي. دواړي خواووي ستومانه سويدي. د امريکايي قواوو دروند پل د افغانانو پر ژوند او سياست باندي ښکاره اثرات اچولي دي. په دواړو خواوو کي لس کلن اوږده جنګ دوستانه احساسات څه ساړه کړي دي. خپلمينځي باور سست او لړزانه سوی دی، او د يو بل په مقابل کي جنګي روحيه غښتلي سوې ده.

د افغانستان جنګ د امريکا په تاريخ کي تر ټولو اوږد جنګ دی. عام امريکايان د خپل اقتصادي مشکلاتو يو عمده عامل د افغانستان او عراق جنګونه بولي. ځينی امريکايي سياسي مبصرين وايي د افغانستان اشغال زموږ منابع ضايع کوي. دا راز نه ختميدونکي جنګونه د امريکا شومه باسي. هغوی وايي: زموږ اصلي رقيبان القاعده او طالبان ندي، بلکي زموږ اصلي سيالان چين، هند، روسيه، برازيل، او د جهان نور پرمختللي هيوادونه دي. هغوی وايي: موږ بر ناحقه په افغانستان کي راايسار سوي يو.

همدا داخلي فشار دی چي د جمهوررئيس اوباما په شمول اکثره جمهوري غوښتونکي کانديدان د « هندوکش» له غرونو څخه د خپلو پوځونو راايستل غواړي. پدې جنګ کي څه کم ۲۰۰۰ امريکايي عسکر وژل سوي، او په سلهاوو بيلونه ډالره مصرف سويدي. بله ډله مبصرين وايي د يوې خوا د افغانستان او عراق جنګونه د مسلمانانو او امريکا تر مينځ فاصله او کنده لا پراخوي، او د بلي خوا د القاعده او نورو افراطي ډلو لپاره سيمپتي او نوي غړي لا ډېروي.

په عين زمان کي، افغانان هم ستړي او ستومانه سويدي. دايمي جنګ او بي امنی يي اقتصاد او روحيي ته کاري صدمي رسولي دي. مدام د يوه نامسلم مستقبل سره مخامخ دي. ملي برخليک ورته مبهم او تياره ښکاري. نه پر خپل حکومت د ثبات او امنيت ساتلو ويسا لري او نه هم پر بهرنيانو باندي د امن راوستلو باور لري. په عمومي توګه، ملي باور لړزانه سوی دی. همداوس، په کابل کي د کورونو او جايدادونو نرخونه کم او معاملات لږ سويدي. له هيواد څخه د ځوانانو مهاجرت زيات سوی دی.

په هيواد کي، نه داخلي نه خارجي کمپنی پانګوني ته زړه ښه کوي. په تيرو لسو کلونو کي، د بومي بورژوازي د غښتلي کولو لپاره د پام وړ کار ندی سوی، بلکي بر عکس جنايي کاروبار، انحصار، او مافيايي اقتصاد وده کړې ده. خصوصي سکتور او ملي تجار د لنډي مودې په باب فکر کوي، او اوږده پلانونه نه سي جوړولای. افغان تجار نن سبا قريب ټول کمپرادور دي. خارجي واردات په خطرناکه توګه ډېرېږي، مګر افغاني توليدات نه بين المللي


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

ماركيټونو ته لاسرسی لري او نه هم د رقابت توان لري. د ژوندانه قريب ټول ضروريات له بهر څخه واردېږي. حتی روميان، بينډۍ، غنم، سابه او ميوې له پاکستان او نورو خارجي ملکونو څخه راځي.

افغانان وايي د بين المللي ټولني په لس کلن دوران کي زيربنايي پروژو ته لازمه توجه و نه سوه. بندونه، برق، اوبه، او زراعت د پرمختګ او جوړولو لپاره واقعي ګامونه وا نه خيستل سول.(طالبان هم د خپلو انتقادونو په لړ کي د زيربنايي پروژو نه شتون ته مدام اشاره کوي.) افغانان وايي مکتب جوړ سو، خو د مسلکي معلم تربيې ته هيڅ پام و نه سو. پوهنتونه ډېر سول، خو مسلکي مهارتونه او تدريسي وړتيا ته يې معقول کار ندی سوی. مطبوعات ډېر سول، خو محتوا او کيفيت ته يې پام ونه سو.

همدا وجه ده چي د افغان مسلکي کارګرانوکموالي د ګاونډو هيوادونو حرفوي کارګرانو ته په افغانستان کي د کارکولو موقع برابره کړېده. په مرکز او نورو لويو ښارونو کي د ترکي، پاکستاني، هندي، او نورو ملکونو مسلکي کارګران او د کوچنيو بزنسونو خاوندان او قراردادیان همدا خلا ډکوي. حال داچي همدا خلا افغانانو په ډېر لږ وخت کي ډکولای سوای. لس کاله را وروسته، افغانستان لا اوس هم د نړۍ نيستمن ملک دی.

افغانان وايي د امريکا پوځونو سره سره په هيواد کي ثبات او سوله قايمه نه سوه؛ مرګ ژوبله ختمه نه سوه؛ ملکي تلفات راکم نه سول. کابل او نور ستر ښارونه امن نه سول. حکومت ښه او خدمتګارنه سو؛ رشوت او کاغذپراني کمه نه سوه. تر ټولو بده او د شرم خبره خو لا دا ده چي د بين المللي ټولني په حضور کي د حکومت واک او صلاحيت جنګسالارانو او مافيايي باسانو ته وسپارل سو.

مطلب مي دا دی چي د اوسني شرايطو او سياسي جوړښت په ارتباط امريکايان او افغانان دواړه سخت شکمن او بې باوره سويدي. هغوی د موجوده روابطو او سيټپ بدلول غواړي، ځکه اوسنی جوړښت د دواړو طرفو په زيان دی؛ او ددې سبب سوی دی چي دواړه طرفه تل نا خوښ او ناراضه وي.

بل پلو، د امريکاوتل به افغانانو ته فرصت ورکړي چي خپل سياسي نظام او راتکونکې پخپله وټاکي. د افغانانو استقلال او ملي حاکميت به اعاده سي. په خلکو کي به دا باور غښتلی سي چي جنګسالاران د پخوا په شان ډالر نلري. همدا وجه ده چي له افغانستان څخه د خارجي ځواکونو ژر وتل د افغانانو او امريکايانو په ګټه ده.

په عين حال کي، افغانستان، امريکا او بين المللي ټولنه کولای سي چي خپل روابط په اقتصادي، انکشافي، او ډپلوماتيکي برخو کي لا زيات او موثر کاندي. پدې ساحو کي، د روابطو لا غښتلي کول د دواړو خواوو په خير دي. افغانستان به په راتلونکي څو لسيزو کي بهرني مرستو ته اړتيا ولري، او امريکايان کولای سي چي پرته له نظامي مرستو څخه په اقتصادي او انکشافي پروژو کي د پام وړ کمک وکړي.

والسلام

واحد فقيري – واشنګټن


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ